دا مضمون د "فیضانِ سنّت"جلداول، "آدابِ طعام" نه اخستے شوے

پښتو

# د ډوډۍ احترام



شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د ”فیضانِ سنّت“ جلداول، ”آدابِ طعام“ نه اخستے شوے دے

# د ډوډۍ احترام

**دعائے عطار:** یارَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله ”د ډوډۍ احترام“ اولوَلي یا واوري، هغه ته برکت والا حلاله او آسانه روزي عطا کړې اور همیشه همیشه ترینه راضي شې۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ورځ د قیامت به په خلقو کښې ما ته زیات نزدې هغه وي چا چې په دُنیا کښې په ما زیات دُرُود شریف لوستلې وي۔

(ترمذی، 2/27، حدیث: 484)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب        صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** که مختلف قسم خوراکونه مثلاً خوږې وریژې، پلاؤ اور اَچار وغیره په یو لوښي کښې وي نو په دې صورت کښې د بل طرف نه هُم د اخستلو اجازت شته۔

## د مُختَلِفو کجورو تالے

د حضرتِ سیّدُنا عِکراش رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ رسول

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې يو لوښے پيش کړے شو چه په هغې کښې ډير شے ثَــرِيـد وو. مونږ د هغې نه خوړل شروع کړل پس ما خپل لاس د هغې په غاړو کښې اخوا ديخوا چلول شروع کړل نو سرکارِ مَدِينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے عِکراش! د يو ځائے نه خوره ځکه چه دا يو [شان] طعام دے." بيا مونږ له يو طبق [يعني تالے] راوړے شو او په هغې کښې د ډيرو قِسمونو تازه کجورې وې. د حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك لاس په لوښي کښې هر طرف ته تللو او اِرشاد ئې اوفرمائيلو: اے عِکراش! د کوم ځائے نه چه غواړې خوره ځکه چه دا (کجورې) د مُختلِفو قِسمونو دي."

(ابنِ ماجه شريف ج٤، ص١٥، حديث٣٢٧٤)

## په پينځه ګوتو خوراك کول د جاهِلانو طريقه ده

د **حضرتِ** سيّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه نبئِ آخِرُ الزّمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غټې ګوتې او د شهادت د ګوتې طرف ته اِشاره اوکړه او اوئې فرمائيل: "په دې دوه ګوتو مه خورئ (بلکه دې سره د مينځ ګوته يو ځائے کوئ او) په درې ګوتو خورئ چه دا سُنّت دي او په پينځه [ګوتو] مه خورئ ځکه چه دا د جاهِلانو طريقه ده."

(كَنْزُ الْعُمّال ج٥ ص١١٥ حديث ٤٠٨٧٢)

## د شيطان د خوراك طريقه

د **حضرتِ** سَيّدُنا ابُو هُريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چه د دواړو جهانو د سردار خوږ نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: په يوه ګوته خوراك کول د شيطان، په دوو ګوتو خوراك کول د مُتَکبِّرينو (يعني کبرژنو خلقو) او په درې ګوتو خوراك کول د انبياء (عَلَيْهِمُ السَّلَام) طريقه ده.

(جامع صغير ص١٨٤، حديث ٣٠٧٤)

زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کله کله په څلورو مبارکو ګوتو هم طعام خوړلو.

(مُلَخّصاً الجامِعُ الصَّغِير ص٢٥٠ حديث٦٩٤٢)

# په درېځ ګوتو د خوراك كولو طريقه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په درېځ ګوتو به نوړۍ وړه جوړيږي، وړوكي نوړۍ به جُوړَل هم آسان وي، چه څومره په ښه طريقه ئې جُوړَوۍ هغه همره به په خُله كښې پيدا كيدو والا هضموونكې اوبه په هغې كښې شامليږي او دغسې به خوراك هم زر هضميږي. **حضرتِ** سَيِّدُنا مولانا علي قاري رَحْمَةُاللہِعَلَیْه فرمائي: "په پينځه ګوتو خوراك كول د حريصانو نښه ده." (مرقاة ج٨ ص٩) ډوډۍ په درېځ ګوتو خوړل زيات مُشكِل هم نه دي صرف د لږې توَجُّه ضرورت دے. البتَّه وريژې په درېځ ګوتو خوړل لږ شان مشكِل وي خو مَدَني سوچ لرونكو **عاشِقانِ سُنَّت** د پاره دا هم هيڅ مشكله خبره نه ده يقيناً په سُنَّت كښې عَظَمَت دے. د غټو غټو نوَړو په حِرص كښې په پينځه ګوتو د خوراك كولو په ځائے د تربِيَّت د پاره د ښي لاس **بِنصَر** يعني د وړې ګوتې خوا سره ګوته راماته كړۍ او د ربړ تِيلئ وړواچوئ يا د ډوډۍ يوه ټُكړه د وړې ګوتې او**بِنصَر** نه لاندې د ورغوي طرف ته كلكه اونيسئ. كه جذبه مو د ربنتياؤ وه نو اِنْ شَــآءَالـلّٰه په درېځ ګوتو د خوراك كولو عادت به مو جوړ شي، چه كله موپه درېځ ګوتو د خوراك كولو عادت جوړ شي نو بيا به د ربړ تِيلئ تړلو او د ډوډۍ ټكړه ورغوي ته د دباوولو حاجت نه وي. كه د وريژو دانے جُدا جُدا وي او په درېځ ګوتو ترې هډو نوَړۍ جوړيدے نه شي نو بيا ئې په څلورو يا پينځؤ ګوتو خوړلے شئ. خو دا اِحتياط ضروري دے چه ورغوے مو ككړ نه شي بلكه چه ګوتې هم د ستو[يعني جرړو] پورې ككړے نه شي.

# په قاشوغه باندې د خوراك كولو حِكايت

په قاشوغه او څمڅئ وغيره باندې خوراك كول د سُنَّتو خِلاف دي. زمونږه اسلافو [يعني پخوانو بُزُرګانو] به په قاشوغه باندې د خوراك كولو نه پرهيز كولو ځكه چه د مدينے

د تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه په درې ګوتو خوراك کول ثابِت دي. **حضرتِ** سیِّدُنا اِبراهِیم باجُورِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چه یو ځل عَبَّاسي خلیفه مامونُ الرَّشِید ته قاشوغو سره طعام وړاندې کړے شو نو د هغه وخت **قاضِیُّ الْقُضَاۃ** حضرتِ سَیِّدُنا اِمام اَبُو یُوسُف رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائیل: ”اللّٰه عَزَّوَجَلَّ پ سیپاره ۱۵ آیت ۷۰ کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِیْۤ اٰدَمَ | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان : او بیشکه مونږه د آدم اولاد ته عِزَّت ورکړو. |

اے خلیفه د دې آیتِ کریمه په تفسِیر کښې ستاسو نِیکه حضرتِ سیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا فرمائي: مونږه د هغوئي ګوتې جوړې کړې چه په هغې هغوئي طعام خوري.“ نو هغوئي هغه قاشوغې پرېښودې او په ګوتو ئې طعام اوخوړو.

(اَلمَوَاهِبُ الَّدُنیّه لِلباجُوری ص۱۱٤)

## په قاشوغه کله خوراك کولے شي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که خوراك داسې وي مَثَلًا فِرني یا (نرې) ماسته وغیره چه هغه په ګوتو خوړل نه شي کیدے او څښلے هم نه شي یا لاس زخمي وي یا لاسونه پاك نه وي او د وِینځلو د پاره اوبه نه وي نو بیا ضرورتاً په قاشوغه د خوړلو اِجازت شته دے. هم دغسې د غوښې پخه شوې غټه ټُکره یا وروِن وغیره په چاړه باندې د کټ کولو اِجازت شته دے.

## په لاس د خوراك کولو طِبِّي [یعني ډاکټري] فائِدے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ډاکټرانو دا خبره منلې ده چه څوك په لاس طعام خوري د هغوئي د ګوتو نه یوخاص قِسم”هاضمه دار لـمدوالے“ اوځي او په طعام کښې شاملیږي او هغه په بدن کښې اِنسولِین (INSULIN) کمیدو ته نه پرېږدي اود دې نه د شُوګر مریضانو ته فائِده حاصلیږي او بیا د طعام نه پس ګوتو څټلو سره نور هاضمه دار لـمدوالے

خيټې ته داخليږي او هغه د سترګو او دِماغو او معدے د پاره بے حده فائِده مند وي او دا د زړه، معدے او دِماغي مَرضونو زبردست عِلاج دے.

## د اَپينډِکس عِلاج اوشو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د طعام سُنّتونه په خپل ژوند کښې راوستلو د پاره مَدَني قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. د معاشرے ډيروران کاري کسان د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِله کښې د سفر کولو په بَرَکت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په سَمه لار روان شوي دي. په دې باره کښې د مَتهرا (هِند) د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دے، زه يو فيشني ځلمے ووم، فِلمونه او ډرامے کتل زما عادت وو، د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه جاري شوے د بيان کيسټ ”ٹی وی کی تباہ کاریاں“ د اوريدو سعادت رانصيب شو او هغے زما د ژوند انداز بدل کړو، زه د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامل شوم. زه د اپينډِکس په بيمارۍ کښې اخته شوم او ډاکټر را ته د آپريشن مشوره راکړه. زه اويَريدم، په دې کښې د دعوتِ اسلامي د يو مُبَلِّغ د اِنفِرادي کوشش په نتيجه کښې په ژوند کښې ورومبے ځل عاشِقانِ رسول سره د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت د درې ورځو د مَدَني قافِلے مسافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د مَدَني قافِلے په بَرَکت د آپريشن نه بغير زما مَرَض لرې شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زما جذبے ته د مَدينے بَرَکتونه نصيب شو، اوس هره مياشت د درې ورځو په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصلووم، هره مياشت د مَدَني اِنعاماتو رِساله جمع کووم او مسلمانان د سحرلـمانځه ته راپاڅولو د پاره کرځم او صدائے مَدِينه لګووم.

بے عمل با عمل بنتے ہیں سَر بَسر | تُو بھی اے بھائی کر قافِلے میں سفر
اچّھی صُحبت سے ٹھنڈا ہو تیرا جگر | کاش! کرلے اگر قافِلے میں سفر

بے عمله سمدستي شي روان په سُنَّت | قافِله کښې د سفر وروره ته اوکړه هِمَّت
ته به هم اوموميِ دغه ډير ښکلے صُحبت | قافِله کښې د سفر کاش که اوموميِ سعادت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د بيهوشۍ نه بغير آپريشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مَدَني قافلو کښې د سفر ډېره بَرَکتونه دي. دا ياد ساتئ! چه بيماري او مُصِيبت د مسلمان د پاره عام طور د رَحمت باعِث وي، اوس تاسو واوريدل چه اسلامي ورور ته د اَپينډِکس تکليف شو او بيا د شِفا سبب ئې د مَدَني قافِلے سفر اوګرځيدو او دغسې هغه مَدَني ماحول کښې پوخ شامِل شو او د هغوئي په مَدَني ماحول کښې صحيح ټيكيدل د رَحمت حاصلولو باعِث دي. که تکليف راشي نو د صبر کوشش کول او ډير اجر و ثواب ګټل پکار دي. زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به د صبر کولو ډېره ښکلے انداز لرلو اوپه مصيبتونوباندې به ئې د اجرو ثواب ګټلو ډېره زبردسته جذبه لرله! چنانچه شارِح بُخاري فَقِيهُ الهِند حضرتِ علّامه مولانا مُفتي مُحمَّد شريفُ الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "نُزْهَةُ الْقَارِی شرحِ صحيحُ الْبُخَارِی" دويم جِلد صفحه نه کښې نقل کوي: حضرتِ سيّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چه د هغوئي والِدِ مُحترم مشهور صحابي او د رسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حَواري [يعني وفادار،دوست] حضرتِ سيّدُنا زُبير بِن عوام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وو او والِده مُحترمه ئې حضرتِ سيّدَتُنَا اَسماءبِنتِ ابو بکرصِدّيق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وه.هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د اُمُّ الْمُؤمِنِين سَيِّدَتُنا عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا خورَيے او د حضرتِ سيّدُنا عبدُالله بِن زُبير رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا سکه ورور او د مدينے مُنَوَّرے په مشهورو "فُقَهاءِ سبعه" (يعني ووه زبردسته عُلَماؤ) کښې يو وو، عابِد و زاهِد او د شپے عبادت کوونکے بُزُرګ وو، هره ورځ به ئې بے ناغه څلورمه حِصّه قرآنِ پاك د مصحف شريف [يعني ليکلي نُسخے] نه په کتلو تلاوت کولو او څلورمه حِصّه قرآنِ پاك به ئې د شپے په تَهَجُّد کښې وئيلو. خليفه وَلِيد بِن عبدُالمَلِك به وئيل چه څوك جنّتي ليدل غواړي نو هغه دِ حضرتِ سيّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اووينې. يو ځل ئې سفر اوکړو او د وَلِيد بِن عبدُالمَلِك کره ئې تشريف ورړے وو. د عُروه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په ښپه مُبارکه کښې د آکِله بيماري پيدا شوه، دا هَغه بيماري ده چه اندام سخا کوي، وليد مشوره ورکړه چه عَمَلِ

جَراحت (يعني آپريشن) اوكړئ. هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ [د آپريشن د پاره] راضي نه شو، او مرَض ئې پنډئ ته اورسيدو. وَلِيد ورته عرض اوكړو چه جناب! اوس ښپه كټ كول ضروري دي ګني دا مَرَض به په ټول بدن كښې خور شي. هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ [د آپريشن د پاره] راضي شو، چنانچه طبيب راغے او هغه اووئيل چه شراب اوڅښئ چه په كټ كولو كښې درته د تكليف احساس نه كيږي. هغوئي اوفرمائيل: د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د حرام كړي څيز په ذريعه آرام نه غواړم. طبيب عرض اوكړو: كه تاسو اِجازت راكړئ نو د خوب راوستلو څه دوائي دركړم. هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل چه زه نه غواړم چه يو اندام دِ كټ كيږي او ما ته دِ تكليف نه محسوسيږي او د تكليف او صبر په ذريعه حاصليدو والا اجر [يعني ثواب] نه دِ محرومه پاتې شم. عرض ورته اوكړے شو چه څه كسانو ته اِجازت وركړئ چه تاسو اونيسي. هغوئي اوفرمائيل: د دې هم څه حاجت نشته. آخِر دا چه اول د ښپے غوښه په چاړه او بيا هډوكے په اره كټ كړے شو خو د هغوئي صبر او برادشت مرحبا!په خُله ئې آه!قدر هم اُونكړو، مسلسل په ذِكرُاللّٰه عَزَّوَجَلَّ كښې مصروف وو، تر دې چه كله د زخم داغلو د پاره د اوسپنو په قاشوغو د زيتُون شريف خوټكيدلي تيل ور واچولے شو نو د درد د زياتوالي په وجه بے هوشه شو، چه كله په هوش كښې راغلو نو د مخ مبارك نه ئې خوَلے اوچې كړې او كټ شوي ښپه ئې په لاس كښې راواغسته او اړوله راړوله ئې او فرمائيل ئې: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي! چا چه زه په تا د پاسه سور كړے ووم، زه ستا په ذريعه كله هم د څه ګناه طرف ته نه يم تلے. د آپريشن ټوله كارروائي داسې [په خاموشۍ] اوشوه چه وَلِيد په خبرو كښې مشغول وو او هغه پوهه هم نه شو چه كله د داغلو په وخت كښې د تيلو بوئي خور شو نو هله پوهه شو.

## د شهزاده شهادت

په دې سفر كښې په حضرتِ سيِّدُنا عُروه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ باندې بل اِمتِحان دا راغے چه د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ځوئ حضرتِ سيِّدُنا مُحمّد بِن عُروه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د وَلِيد غوژل ته

لاړو نو يو ښاروي اووهلو او شهيد شو. چه کله مدينے مُنَوَّرے ته بيرته راغلو نو د پينځلّسمي سيپارے د سُورَةُالكَهف د دوه شپيتم آيت دا حِصّه ئي اولوستله،

لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُ الاِيمان: بيشكه مونږه په دي سفر كښې ډير مَشَقَّت سره مخامخ شُو.

## د حضرتِ سَيِّدُنا عُروه رَضِىَ اللهُ عَنْهُ سخاوت

د حضرتِ سيِّدُنا عُروه رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د سخاوت دا عالَم وو چه کله به په باغ کښې ميوے پخے شوے نو چاپيره تاؤ شوي ديوال كښې به ئي ځائے اوشلولو، خلق به راتلل او ميوے به ئي خوړلې او ځان سره به ئي وړلې هم. د هغوئي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ په ژبه به د پينځلّسمي سيپارے د سُورَةُالكَهف د يو كم څلويښتم آيت دا حِصّه وه:

وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان : او ولے داسې اُو نه شو چه کله ته خپل باغ ته داخِل شوې نو دا دِ وئيلې وے، چه څه غواړي الله، مونږه هيڅ طاقت نه لرو خو د الله د مدد.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په دوړه لګولو خوراك کول سُنَّت نه دي

د خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "زه په دوړه لګولو خوراك نه كووم."

(كَنزُ الْعُمّال ج١٥ ص١٠٢ حديث ٤٠٧٠٤)

## په ډېره لګولو خوراك مه کوئ

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو اَلدَّرداء رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چه حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "تاسو په ډېره لګولو خوراك مه کوئ."

(مَجۡمَعُ الزَّوَائِد ج٥ ص٢٢ حديث٧٩١٨)

## د خوراك په وخت کښې د ډېرې لګولو څلور حالتونه

د **خوراك** په وخت کښې د ډېرې لګولو څلور حالتونه دي: (١) يو طرف ته زوَرېند کښيناستل (٢) پرلت وهل (٣) يو لاس په زمکه اېښودل (او په هغې) ډېره وهل (٤) ديوال يا کُرسۍ ته شا لګول. دا څلور واړه حالتونه مناسب نه دي. د اَلتَّحِيّات په شان يا داسې ناسته چه دواړه زنګونان ولاړ وي، په دې دواړو حالتونو کښې خوراك کول ښه دي او په طِبِّي [يعني ډاکټرې] لِحاظ فائِده مند هم دي. په ولاړه خوراك کول ښه نه دي.

(مراٰة شرح مِشکوٰة ج٦ ص١٢)

## په ډېره لګولو د خوراك کولو نقصانونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په ډېره لګولو خوراك کول سُنَّت نه دي. په دې سُنَّت باندې د عمل نه کولو درې طِبِّي [يعني ډاکټرې] نقصانونه هم دي: (١) طعام ښه نه جُوَلے کيږي او په هغې کښې چه څومره لُعاب [يعني د خُلے هاضمه دارې اوبه] شامليدل پکار وي هغه همره پکښې نه شامليږي چه هغه معدے ته لاړې شي او سخت خوراکونه هضم کړے شي او دغسې به د هاضمے نِظام مُتاثِره شي (٢) ډېره لګولو سره معده فراخه شي لِهٰذا دغسې به غير ضروري خوراك معدے ته لاړ شي او هاضمه به خرابه شي. (٣) په ډېره لګولو خوراك کولو سره کولمو او ځيګر ته نقصان رسي.

حُجَّۃُ الْاِسلام حضرتِ سیِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: ”په ډېره لګولو اوبه څښل هم د معدې د پاره نقصاني دي.“

(اِحیاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۵)

## د ډوډۍ اِحتِرام کوه

په زمکه پرته ډوډۍ راپورته کول او خوړل سُنَّت دي، چنانچه اُمُّ الْمُؤمِنِین سَیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي: د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور مبارك ته تشريف راوړو، د ډوډۍ يوه ټُکړه ئې [په زمکه] پرته اوليدله نو هغه ئې راواغسته صفا ئې کړه او اوئې خوړله او اوئې فرمائيل: ”عائِشه (رَضِیَ اللہُ عَنْہَا) د ښه څيز احتِرام کوه ځکه چه دا څيز (يعني ډوډۍ) کله د يو قوم نه تښتيدلي ده نو بيرته نه ده راغلي.“

(ابنِ ماجه ج٤ ص٥٠ حديث٣٣٥٣)

## د طعام د اِسراف نه توبه اوکړۍ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نن صبا هر څوك د بې بَرَکتۍ او تنګدستۍ ژړا کوي. څه معلومه ده چه دا د ډوډۍ د اِحتِرام نه کولو سزا وي. نن صبا شايد که داسې مسلمان وي چه هغه به ډوډۍ نه ضائِع کوي. هر طرف ته د طعام د بې ادبۍ زړه خُوګوونکي نظارې دي، که د واده دعوتونه وي او که د بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د خيراتونو تَبَرُّك [يعني خورده] وي. افسوس! په دسترخوانونو او دريځ باندې بې دردۍ سره طعامونه غورزولې کيږي، د طعام په دوران کښې په هډوکو پورې نخښتي غوښه او مَصَاله صحيح نه صفا کيږي، د ګرمې مصالې سره هم د خوراك ډيرې ذرّې ضائِع کړې شي، په کاسو، رکيبو کښې پاتې لړ لړ انګولې او په ديګچو او پتيلو کښې پاتې ښوروا د دوباره استعمالولو اکثر خلق فِکر نه لري، دغسې ډيرپاتې شوې اِنګولي عام طور

کچرے او ډیرانونو ته اوغورزولے شي.تراوسه مو چه هرخومره اسراف کړے وي مهرباني اوکړئ! د هغي نه توبه اوکړئ او دا پخه وعده اوکړئ چه آئِنده به د طعام د يوے دانے او د ښوروا د يو څاڅکي اِسراف هم نه کوو. وَاللهِ الْعَظِيْم! د قيامت په ورځ به د ذرّے ذرّے حِساب کيږي، يقيناً هيڅ څوك هم د قيامت د حِساب طاقت نه لري، توبه او په رښتيني توبه اوکړئ. درود شريف اولولئ او داسي عرض اوکړئ. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د نن ورځي پورې چه ما څومره اِسراف کړے دے، د هغي نه او د ټولو کبيره او صغِيره ګناهونو نه توبه کووم او ستا په راکړي شوي توفيق به آئِنده د ګناهونو نه د بچ کيدو پوره پوره کوشش کووم، اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږه ربه عَزَّوَجَلَّ زما توبه قبوله کړې او ما بے حِسابه اوبخښې.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَدقہ پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب

بخش بے پوچھے لَجائے کو لَجانا کیا ہے

په خاطر د خوږ نبي زما نه مه اخلې حِساب

بخشش اوکړه، ملامته مه کړې نور دا ملامته

په اتمه سِيپاره سُوْرَةُ الْاَعْرَاف آيت ۳۱ کښې د اللہ تعالٰی مبارك فرمان دے:

| | |
|---|---|
| كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا وَ لَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُسْرِفِیْنَ ۟ (پ ۸، الاعراف: ۳۱) | [مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: او خورئ څښئ او د حد نه مه تيريږئ، بيشکه د حد نه تيريدونکي هغه ته خوښ نه دي. |

## اِسراف څه ته وائي؟

**مُفَسّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرتِ مُفتي احمد يارخان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په تفسيرِ نعِيمي ج٨ ص٣٩٠ کښې فرمائي: د اِسراف ډير تفسِيرونه دي (١) حلال څيزونه حرام ګنړل (٢) حرام څيزونه استعمالول (٣) د ضرورت نه زيات خوراك څښاك كول يا اغوستل (٤) چه زړه څه اوغواړي هغه څښل خوړل يا اغوستل (٥) په شپه او ورځ کښې بيا بيا خوراك څښاك كول چه هغې سره مِعده خرابه شي، بيمار شي (٦) مُضِر [يعني ضَرَري] او نقصان وركوونكي څيزونه خوړل څښل (٧) هر وخت د خوراك څښاك په خيال کښې اوسيدل چه اوس به څه خورم، بيا به څه څښم. (رُوحُ الْبيَان ج٣ ص١٥٤) (٨) د غفلت د پاره خوړل (٩) د ګناه د پاره خوراك كول (١٠) د ښو خوراكونو او ښو جامو اغوستلو عادت جوړول چه كله هم معمولي څيز نه شي خوړلے او څښلے (١١) ښه ښه خوراكونه د خپل كمال نتيجه ګنړل. غَرَض دا چه په دې يو ټكي کښې ډير احكام داخِل دي.

حضرتِ سَيِّدُنا عمرفاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي چه هر وخت د ځان مړولو نه ځان ساتئ ځكه چه دا بدن بيماروي، مِعده خرابوي او په لـمانځه کښې سستي راولي، په خوراك څښاك کښې اِعتِدال [يعني درميانه انداز] اِختيار كړئ ځكه چه دا د سوونو بيمارو عِلاج دے. اللهُ تَعَالٰی پيړ انسان[1] نه خوښوي. (كَشفُ الخفاء ج١ ص٢٢١ حديث ٧٦٠) ځوك چه خواهِش په خپل دِين باندې غالِب كړي هغه به هلاك شي.

(رُوحُ الْمَعَانِي ج٤ ص١٦٣ ملتان، تفسيرِ نعيمى ج٨ ص٣٩٠ لاهور)

## نري اِنسان فضِيلت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** طعام كم خوړلو سره سره خاص طور مَيده، خواږه

[1] د پيړ والي په وجه په ځا پورې خندا كول، ځيړل او د هغه زړه ازارول ګناه ده.

او غوړ او د دې نه جوړ شوو څيزونو اِستعمالولو كښې (د طبيب د مشورے مطابق) كمي كولو سره د بدن په وزن كښې كمے راځي، راوتلي خيټه په اصلي حالت شي او د بنده وجُود ښكلے كيږي[1]. اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی كم خوراك كوونكے، سپك بدن والا مسلمان خوښوي چنانچه حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما روايت كوي چه نبيِّ كريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته په تاسو كښې تولو نه زيات هغه بنده **خوښ دے څوك چه كم خوراك كوونكے او خَفِيف (يعني سپك) بدن والا دے.**

(اَلجامعُ الصَّغير ص۲۰ حديث۲۲۱)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عمل جذبه زياتولو د پاره **مَدَني ماحول** ضروري دے، ګڼې كه عارضي طور جذبه پيدا هُم شي نو د ښه صُحبت د كمي په وجه اِستِقامت نه حاصليږي. لِهٰذا د **عاشِقانِ رسول** د صُحبت حاصلولو د پاره **مَدَني قافِلو** كښې سفر كول خپل معمول جوړ كړئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي په بَرَكت هر طرف ته سُنّتونه عام دي. راځئ د دعوتِ اسلامي په يو اِيمان تازه كوونكي "مَدَني سپرلي" خپل زړه او ځيګر ګُلِ ګُلزار كړئ. چنانچه

## د يو غير مُسلم قبولِ اسلام

د **تحصيل** ټانډا ضلع آمبيډ كرنګر (يو پي هِند) د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دے، زه د كُفر په تورو تيارو كښې ورك ووم، يوه ورځ چا د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** يوه رِساله اِحترامِ مُسلِم په تُحفه كښې راكړه، ما چه اولوستله نو حيران پاتې شوم، چه كومو مسلمانانو ته ما هميشه د نفرت په ستركه كتلي وو د هغوئي مذهب "اِسلام" په خپل مينځ كښې دومره د امن او محبَّت درس وركوي! د رِسالے ليك زما په زړه باندې ډير

---

[1] د بدن د وزن كمولو طريقه معلومولو د پاره د فيضانِ سُنَّت باب "د خيټې قُفلِ مدينه" اولولئ.

زيات اثر اوکړو او زما په زړه کښې د اسلام ډير زيات محبّت پيدا شو. **يوه** ورځ زه په بس کښې په سفر ووم چه يو څو د ګِيرو او عمامو [يعني پټکو] والا اسلامي ورونړو مَدَني قافِله هم بس ته را اوختله، ما چه څنګه اوليدل نو پوهه شوم چه دا مسلمانان دي، زما په زړه کښې د اسلام محبّت خو هسې هم پيدا شوے وو لِهٰذا ما د اِحترام په نظر هغوئي ته کتل شروع کړل، په دې وخت کښې په هغوئي کښې يو اسلامي ورور د نبيِ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې نعت شريف وئيل شروع کړو، په ما باندې د هغه انداز ډير زيات ښه اولګيدو، زما هغوئي ته په شوق شوق د کتلو په وجه په هغوئي کښې يو زما سره **خبرې اترې** شروع کړې او هغه پوهه شو چه زه مسلمان نه يم، هغه مُسکے شو او په ډير ښکلي انداز ئې ما ته اووئيل: زه تا ته د اسلام قبلولو درخواست کووم. ولے چه د "اِحترامِ مُسلِم" رِسالے لوستلو په وجه زما په زړه کښې د مخکښې نه د اسلام محبّت پيدا شوے وو او ورسره ورسره د هغه د عاجزۍ په انداز کښې وئيلو راباندې نور اثر اوکړو، بس ما اِنکار اُونکړے شو او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! ما په رښتيني زړه اسلام قبول کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دې بيان ورکولو وخت کښې زما د مسلمانيدو څلور مياشتې شوې دي، زه پابندۍ سره لمونځ کووم، د ګِيرې پريښودو نِيَّت مې کړے دے، د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامِل شوے يم او مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو سعادت هم حاصلووم.

کافروں کو چلیں مشرکوں کو چلیں دعوتِ دین دیں قافلے میں چلو
دین پھیلائیے سب چلے آئیے مل کے سارے چلیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خلقو نه د شرم په وجه سُنَّت نه دي پرېښودل پکار

زمونږه صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان به د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په **محبّت** کښې ډوب اوسيدل. د دنيا کوم يو شوق او د بې وفا معاشرې د دروغو خوشامدو هغوئي د سُنَّتو نه، نه شو محرومه کولې. چنانچه حضرتِ سیّدُنا حَسَن بصري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي چه حضرتِ سیّدُنا مَعقِل بِن يَسار رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ (چه د هٔغه ځائې د مسلمانانو سردار وو) طعام خوړلو، د هغوئي د لاس نه نوَړۍ پريوتله، هغوئي هغه راپورته کړه، صفا ئې کړه او اوئې خوړله. دا ئې چه اوليدل نو د کلي [بې تعلِيمه] خلقو يو بل ته په سترګو کښې اِشاره اوکړه (يعني چه دا څومره عجيبه خبره ده، چه دوئي لويدلې نوَړۍ اوخوړله) چا هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ ته اووئيل: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ اَمِير ته خير ورکړي، اې زمونږه سرداره! دا د کلي خلق يو بل ته په سترګو کښې اِشارې کوي چه اَمِيرصاحِب رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ لويدلې نوَړۍ اوخوړله حالانکه د دوئي مخې ته نور طعام موجود دې. هغوئي اوفرمائيل: "د دې عَجَميانو په وجه زه هٔغه کار نه شم پرېښودلې کوم چه ما د **مدينې د سردار** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلې دې. مونږ به يو بل ته حُکم کولو چه که نوَړۍ پريوځي نو هغه دِ صفا کړې شي او او دِ خوړې شي او د شيطان د پاره دِ نه پرېښودې شي.

(اِبنِ ماجه ج٤ ص١٧ حديث٣٢٧٨)

رُوحِ ايماں مَغزِ قُرآں جانِ ديں　　　　هَستِ حُبِّ رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِيۡن

[د شعر ترجمه: د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبّت د اِيمان رُوح، د قُرآن اصل او د دِين ځان دې.]

## ډير ډير اِنفِرادي کوشش کوئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده؟ جلِيلُ القدر صحابي او د مسلمانانو

سردار سيِّدُنا مَعقِل بِن يَسار رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به د سُنَّتو سره خومره محبّت كولو. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د عَجَميانو د اشارو د يو ذرّے همره پرواه هم اُونكړه او بے پرواه ئي په سُنّتو باندې عمل جاري اوساتلو، او نن صبا بعضې داسې نادان مسلمانان هم شته دے چه "په ماډرن [يعني فيشني] ماحول كښې د كِيرې مباركې په شان عظِيمُ الشّانه سُنَّت باندې عمل نه كولو ته مَعَاذَالله "حِكمتِ عَمَلي" وائي. حقيقي حِكمتِ عَمَلي هُم دا ده چه كه هر خومره بد ماحول وي، كه د اغيارو [يعني غير مذهبو] زور وي، كه د بدمذهبو شور وي، چه هر څه وي تاسو كيره پريږدئ، عِمامه [يعني پټكے] په سر او د سُنّتو ډك لِباس كښې اوسئ، د خوراك څښاك په معاملاتو كښې د سُنَّتو پابندي جاري ساتئ او د خلقو د اصلاح د پاره اِنفِرادي كوشش جاري ساتئ، اِنۡ شَآءَالله د ډيوے نه به ډيوه بليږي، هر طرف ته به حق عام شي، شيطان به مخ تورن شي او هر طرف ته به د سُنَّتو رنړاګاني خورے شي او د دُنيا د دولت هر عاشِق به د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشق جوړ شي او اِنۡ شَآءَالله هر كور كښې به د خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور رنړاګاني شي.

خاک سورج سے اندھیروں کا اِزالہ ہو گا　　آپ آئیں تو مرے گھر میں اُجالا ہو گا

ہو گا سیراب سرِ کوثر و تسنیم وُہی　　جس کے ہاتھوں میں مدینے کا پیالہ ہو گا

دا تيارے به نه په لـمر باندې رنړا شي　　تاسو راشئ زما په كور كښې به رنړا شي

په كوثر او په تسنيم به هغه موړ شي　　د مدينے پياله چه چا ته ورعطا شي

## د كافِر اِسلام قبلول

ددعوتِ اسلامي دعالَمي مَدَني مركز فيضانِ مدينه (بابُ المَدينه كراچي) نه د عاشقانِ

رسول یوه د ورځو مَدَني قافِله د کولمبو په سفر وه. په کومه ورځ چه ضِلع "ایرو" ته د یوے میاشتې د پاره مَدَني قافله په سفر روانیدله نو په دې دوران کښې یو اسلامي ورور د **امیرِ قافِله** خوا ته یو غیر مُسلِم ځلمے راوستو. امیرِ قافِله هغه ته د حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اعلٰی کِردار متعلِّق یو څو خوشبوداره مَدَني ګلونه وړاندې کړل او د اِسلام دعوت ئې ورکړو. په دې باندې هغه یو څو سوالات اوکړل، د هغې جوابونه ورکړے شو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زیات وکم د یوے ګینټے د اِنفِرادي کوشش نه پس هغه غیر مُسلم مسلمان شو.**

کافر آجائیں گے راہِ حق پائیں گے — اِن شاءَ الله، چلیں قافلے میں چلو
کُفر کا سر جُھکے دیں کا ڈنکا بجے — اِن شاءَ الله، چلیں قافلے میں چلو

کافِران به راځي، حقه لار به مومي
ان شآءَ الله راځئ قافِلو کښې لاړ شئ
شي به کُفر ناکام، ښه به خور شي اسلام
ان شآءَ الله راځئ قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب — صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اولاد د کم عقلۍ نه د بچ کولو نُسخه

د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د **خوږ محبوب** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خیر نه ډک فرمان دے: "څوك چه دسترخوان نه د طعام غورزیدلي ټُکړے راپورته کوي او خوري ئې هغه به د فراخۍ ژوند تیروي او د هغه اولاد او د اولاد اولاد به د کم عقلۍ نه **محفوظ** اوسي."

(کَنزُ الْعُمّال ج۱۵ ص۱۱۱ حدیث۴۰۸۱۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب — صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د تنګدستۍ عِلاج

زبردست مُحَدِّث حضرتِ سیِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته د بغداد خلیفه مامون رشید د طعام دعوت ورکړو، د خوراك وغیره کومې دانے چه غورزیدلې وې هغه د طعام په آخِره کښې سیِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه راټولولې او خوړلې ئې. مامون رشید حیران شو او ورته ئې اووئیل، اے شیخ! آیا تر اوسه پورې نه ئې موړ شوے؟ هغوئي اُوفرمائیل: ولے نه! اصل کښې خبره دا ده چه ما ته حضرتِ سیِّدُنا حَمَّاد بِن سَلَمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو حدیث بیان کړے دے: ”څوك چه د دستر خوان نه لاندې د طعام غورزیدلې ټُکړے راټولوي او خوري هغه به د تنګدستۍ نه بے ویرې شي.“ زه په هم دې حدیث مُبارك عمل کووم. دا ئې چه واوریدل نو مامُون ډیر زیات **مُتاثِره** شو او خپل یو خادم ته ئې اِشاره اوکړه، هغه زر دِیناره په رومال کښې ترلې راوړل. مامون هغه د حضرتِ سیِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې د نذرانے [یعني تُحفے] په طور وړاندې کړل. حضرتِ سیِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په حدیث مبارك باندې د عمل کولو بَرَکت سمدستي ښکاره شو.

(ثَمَرَاتُ الْاَوْرَاق ج۱ ص۸)

# د خلقو نه د شرمیدو په وجه سُنَّت مه پریږدۍ

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** معلومه شوه چه زمونږه بُزرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به په سُنَّتو باندې د عمل کولو په مُعامَله کښې د دُنیا د غټ نه غټ رئِیس بلکه د بادشاه هم پرواه نه لرله. دې حِکایت نه زمونږه هغه اسلامي وروڼړوته درس حاصلول پکار دي کوم چه خلقو نه د شرمیدو په وجه د خوراك ښنباك سُنّتونه پریږدي او کِیره مُبارکه پرینږدي او د عمامے [یعني د پټکي] تاج په سر کولو نه ډډه کوي. یقیناً په سُنَّتو باندې عمل کول په دواړو جهانو کښې د نیك بختۍ باعِث دي، کله کله په دُنیا کښې

سمدستي هم د دې بَرَکتونه ښکاره کيږي څنګه چه حضرتِ سيِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته په سُنَّتو باندې د عمل کولو په بَرَکت د شاهي دربار نه زر دِيناره ورکړے شو او هغوئي مالدار شو.

جو اپنے دل کے گلدستے میں سنّت کو سجاتے ہیں

وہ بے شک رحمتیں دونوں جہاں میں حقّ سے پاتے ہیں

ګلدسته د زړه چه خوك ښائِسته کړي په سُنَّت

بيشکه مومي دواړو جهانو کښې د حق رَحمت

د غمِ مدينه، بقيع، بخښنې او بے حسابه په
جنَّت الفردوس کښې د آقا د ګاونډ طلب ګار

ربيع الثانی 1444ھ

November-2022

- المَوت

# فهرست

د ډوډۍ احترام.......................................................................1
د دُرُود شريف فضيلت..............................................................1
د مُختَلِفو كجورو تالے..............................................................1
په پينځه ګوتو خوراك كول د جاهِلانو طريقه ده ...................................2
د شيطان د خوراك طريقه...........................................................2
په درې ګوتو د خوراك كولو طريقه.................................................3
په قاشوغه باندې د خوراك كولو حِكايت .........................................3
په قاشوغه كله خوراك كولے شي ...................................................4
په لاس د خوراك كولو طِبِّي [يعني ډاكټري] فائِدے ...........................4
د اَپينډِكس عِلاج اوشو.............................................................5
د بيهوشۍ نه بغير آپريشن ........................................................6
د شهزاده شهادت ....................................................................7
د حضرتِ سَيِّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سخاوت ..........................................8
په ډېره لګولو خوراك كول سُنَّت نه دي ..........................................8
په ډېره لګولو خوراك مه كوئ........................................................9
د خوراك په وخت كښې د ډېرې لګولو څلور حالتونه ............................9
په ډېره لګولو د خوراك كولو نقصانونه ..........................................9
د ډوډۍ اِحتِرام كوه ...............................................................10
د طعام د اِسراف نه توبه اوكړئ...................................................10
اِسراف څه ته وائي؟...............................................................12
نرې اِنسان فضِيلت ................................................................12
د يو غير مُسلم قبولِ اسلام.......................................................13
د خلقو نه د شرم په وجه سُنَّت نه دي پرېښودل پكار...........................15
ډير ډير اِنفِرادي كوشش كوئ.....................................................15

د کافِر اِسلام قبلول ........................................................................ 16
اولاد د کم عقلئ نه د بچ کولو نُسخه ...................................................... 17
د تنګدستئ عِلاج ........................................................................ 18
د خلقو نه د شرمیدو په وجه سُنَّت مه پریږدئ ........................................ 18

# اگلے ہفتے کا رسالہ





فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران پرانی سبزی منڈی، بابُ المدینہ (کراچی)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com